لومړی کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

storyweaver PRATHAM BOOKS

# ځانګړی رسّام




Dương Ngọc Tú Quỳnh :لیکوال
Nguyễn Minh Hải, Nguyễn Minh Hải :انځورګر


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

The Special Painter (Pashto), Published by Room to Read, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



زمرى رسم كاږل خوښوي! د زمري مور يوه رسامه ده. د زمري پلار د هنر ښوونكى دى.

د زمري ښى لاس ګوتې نه لري، خو هغه د يو رسام جوړېدو ارمان لري او غواړي چې ښكلي انځورونه رسم كړي.



د زمري مور هغه د کوچنیانو
تعلیمي مرکز کې په لومړي
ټولګي کې شاملوي.



ښوونکی له ټولګي څخه د ژوبڼ د رسمولو غوښتنه کوي.

شاګردان ډېر خوښ دي.



حسنا غواړي چې يو طاووس رسم کړي.
بهير د پيشوګانو رسمولو سره مينه لري. بادام غواړي چې يوه قطبي يږه رسم کړي.



حوا ډېره لټوونکې پلټونکې ده.
هغه له زمري نه پوښتنه کوي،
"کوم یو رسمول غواړې؟"

زمري ځواب ورکړ، "زه دا ټول
رسمول غواړم."



کریم پنسلونو ته ځوکې جوړوي. هغه پوښتنه وکړه، ”ته به د نقاشۍ برسونه کاروې که پنسلونه؟“

زمري وویل، ”زه به دواړه کاروم.“



بادام د رنګونو قطی راباسي او
پوښتنه کوي، ”آیا ته به په
خپل کیڼ لاس رسم کاږې؟“

زمری په فکر کې شو. ”زه به هڅه
وکړم چې په دواړو لاسونو رسامي
وکړم.“



حسنا رنګونه سره یوځای کوي.

”ته به کوم رنګونه کاروې؟“، هغې پوښتنه وکړه.

”زه به دا ټول رنګونه کاروم.“، زمري په خوښۍ وویل.





خو زمری په خپل ښي لاس کې
برس نه شي نیولی، ځکه هغه
په ښي لاس کې ګوتې نه لري.

برس یې له لاس څخه بیا بیا
ښوئیږي.



زمرى لومړى د يوې چرګې
د رسمولو هڅه کوي.

خو ډېر ژر، د هغه لاس په
رنګونو ككړېږي.



زمری داسې احساس کوي چې
نور خپل کار ته ادامه نه شي
ورکولای.

ناڅاپه، د هغه سترګې په خپل
ورغوي کې په یو خندوونکي
شکل لګېږي.

د هغه په لاس نښه یو چرګوړي
ته ورته ده!



د زمري ذهن ته يو تدبير راغلو!



زمري خپل لاس په نسواري
رنګ، رنګ کړ. هغه خپل
ځان سره خاندي.

”اوس به زه په خپل لاس
رسامي کوم.“، هغه وويل.



زمري خپل لاس د کاغذ په کونج کېښودو.





هغه موسکی کېږي او یو څو
نور نسواري خاپونه اضافه
کوي.

وګوره، دا خو یو زړه راښکونکی
پاپي دی!



زمری په خپل لاس او خپل مټ سره دوه نور ژیړ خاپونه جوړوي.





بیا پکې هغه نارنجي ټکي اضافه کوي.

ګورئ، دا یوه زرافه جوړه شوه!



ورپسې زمرى په خپلو پښو نسواري رنګ موښي او پر کاغذ پښه ږدي.





هغه یو څو کربښې کش کوي.

څومره ښه! یوه ښکلې، زړه
راښکونکې یږه راڅرګنده شوه.



زمری خپلو پوندو ته بانجاني او ګلابي رنګ ورکولو
سره خپل کار ته ادامه ورکوي او پر کاغذ يې ږدي.



يو څو کرښې اضافه کوي او
رنګا رنګې مرغۍ په کاغذ راښکاره
کېږي.



”هغه ټرين/اورګاډی چې مونږ د ژوبڼ په چکر بوزي، نه ښکاري.“، زمري وويل.

”آيا څوک شته چې دا ما سره رسم کړي؟“



امکان نشته چې تر دې بل ښه ټولګی دې شتون ولري!

کوچنیان په ګډه سره ښکلي ښکلي انځورونه رسموي.



# لارښودونکې پوښتنې

1. آیا رسمول یا نقاشۍ کارل مو خوښېږي؟ تاسو معمولاً څه شی رسموئ یا رنګوئ؟
2. آیا غواړئ چې یو رسام/انځورګر شئ؟ ولې یا ولې نه؟
3. ستاسو په اند د هنر مقصد څه دی؟
4. تاسو د زمري او د هغه د ملګرو د ترسیم کړو رسمونو په اړه څه فکر کاوه؟
5. آیا تاسو کله ژوبڼ ته تللي یاست؟ تاسو هلته کوم حیوانات ولیدل؟ که تاسو ته وویل شي چې یو ژوبڼ رسم کړئ، تاسو به په خپل رسم/انځور کې کوم څاروي/حیوانات شامل کړئ؟